پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۵/۰۲/۲۰۱۵

# راسئ پرې نږدو چي سوله يو بې مُسما اسم سي

يادوونه : لکه څنګه چي لوستونکي د رسنيو د لاري خبر دي ، د همدی روان ۲۰۱۵ کال د جنوري مياشتي پر ۱۵ نيټه د جرمني هيواد د کولن په ښار کي د يو شمير خواخوږو هيوادوالو لخوا د « سولي او امن » په موخه يو کنفرانس را بلل شوی وو چي ماته هم د ګډون بلنه را کړل شوی وه . له بده مرغه ما د خپل يوه ګران دوست د متوفی ميرمني په جنازی کي د ګډون له امله هلته کنفرانس ته ځان و نه رساوه او يوازی می د دغي خپلي ليکلی بيانيې په ورليږلو بسنه وکړه . له همدی کبله ، دادی نوموړې بيانيه می پدغه سايټ کي د نشرولو د لاری تر تاسو درنو لوستونکو پوری رسوم :

**د لوی او بخښونکي خدای پنامه**

د ننني پرتميني غونډي درنو ګډونوالو، ګرانو هيوادوالو، آغلو او ښاغلو !

ډير خوښ يم چي يوار بيا دا فرصت مومم څو د هيواد پر زخمونو باندي د ملهم ايښودلو په موخه د يو شمير منلو او وتلو ځيرو آندونه واورم او ددغي لاری خپل دردونه د وطنوالو سره شريک کړم.

ښکاره خبره ده چي د ملهم ځخه موخه د هغه جنګ د طاعوني سرطان په وړاندی د اکسيرو درملو موندل دي چي نژدي دري نيمی لسيزي يې د هيواد هډ او پوست ور خوړين کړی او د ميتاستاز تر کچي رسيدلی دی. زه سوله ښئيم ، زه امن او ټيکاو يادوم . هغه سوله چي اوس خدای مکړه په يوه بې مسما اسم باندی اوښتې ده.

زموږ او ستاسی دغه ننني غونډه هغه څه نه دی چي د لومړي ځل لپاره يې د لاری د سولي او امن په اړه خبره را پورته کيږی، پر دردونو يې اوښکي توئيږي، نه يوازی د اکسيرو ملهمو بلکه ان د واکسين پخاطر يی هم وړانديزونه کيږی.

د سولی د دايمي تر لاسه کولو پخاطر تر اوسه پوري د هيواد په دننه کي د دولتي چارواکو ،د (سولې عالي شورا) ، ټولنو او بيلابيلو بنسټونو لخوا پرله پسې هلي ځلي تر سره سويدي . همدارنګه د هيواد نه بهر د ميشتو افغانانو او نړيوالو په مټ يو لړ کارونه سرته رسيدلي دی. لدې نه پرته په کور دننه او د باندي کی د افغان چارواکو او نړيوالو ګډي هلي ځلي هم د يادولو وړ دی.

ددې ټولو منډو را منډو سره سره نو دا پوښتنه په حق سره دا پوښتنه را پورته کيږي چي د افغانانو پر غمځپلي خاوره نو بيا ولي د سولي عنقا سيوری نه غوړوي. دا په ډيره بې انصافي وی که څوک ووايي چي کرزي د زړه له کومي سوله نه غوښته او يوازی غولونکي غورځي پورځي يې وهلې، او يا داچي اشرف غني د سولي دښمن دی . ددې څخه هم سترګي نه سو پټولای چي ددغو دواړو کسانو پر شاوخوا داسي زوروري کړۍ را چاپيره وی او دي چي سوله يې په ګټه نده ځکه نو اوبه خړوي او کبان نيسي.

لکه څنګه چي تپل سوی جنګ زموږ په هيواد کی خپلي ريښې او سرچينې لري ، همدارنګه سولي ته نه لاسرسۍ هم خپل علتونه لري . اوسنۍ جنګي غميزه د يو لړ علتونو معلول ده. زما په آند تر اوسه پوري چي لوړو ياد شوو هلوځلو اړينه پايله نده درلودلی ، ښايي دليل به يې دا وي چي نوموړي هلي ځلي يوازی د معلول پر شاوخوا را ګرځي ، علت څنګ ته پاته او آن داچی کله ناکله بيخي له ياده وتلی وي.

پدې کي هيڅ شک نسته چي غميزه د ۱۳۵۸ کال د مرغومي له شپږمي نيټې څخه د کرملين د لنډه غرو سياسي مشرانو په ناروا پريکړه را پيل سوه . دا کار د امريکا او لويديزوالو د پاره ښه بهانه و ګرځيده څو په کرملين کي د واکمني ايډيالوژئ د ټکولو پخاطر په هر مشروع او نامشروع عمل لاس پوری کړي. ددې ايډيالوژئ د ځپلو په موخه ( بنسټ پالنه ) تر ټولو اکسيره او اسانه لاره وه چي د « سي اي يې » په مشوره او مالي لګښت د « اي ايس اي » په کړغيړنو لاسونو سره په بريالي توګه تر سره سوه.

که غميزه کرملين پيل کړه خو اوسنی دوام يې د سيمي او نړۍ د ځاګرو کړيو په لاس مخته ځي . پدې توګه لکه څنګه چي هره پيښه او پديده ځانته خارجي او داخلي اړخونه لری، همدارنګه د سولي تر ناوکۍ پوري هم بايد ددغو دوو اړخونو په منځ کي لاره ولټوله سي او پر ستونزي باندی د لاسبرۍ په موخه اړين توکی په ګوته سی . په کور دننه اړخ کی ددغه ډول لاسبريو پخاطر کيدلای سي د اړينو توکو په ډول ـــ دولتي اداره ، ملي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

بنسټونه ، قومي مشران او نوري بيلابيلي اغيزلرونکي کړی يادي کړو چي د پام وړ رول لري . په بهرني اړخ کي ګاونډي هيوادونه ، د سيمي هيوادونه او د سېمي څخه د باندي اغيزلرونکي هيوادونه لکه امريکا ، اروپايي اتحاديه او انډيوالان يې پدې پروسه کي د ډير اغيز درلودونکي دي.
ښکاره او تر لمر سپينه خبره ده چي پدې پروسه کي د يوه اړخ رول هم له پامه غورځولای نه سو . که څه هم د شرايطو په نظر کی نيولو سره کله د يوه اړخ رول او کله د بل اړخ دا زيات وی خو په ټوليز ډول د منطق او ډيالکتيک حکم دادی چي داخلي تضادونه د هری پديدې په طبعي پرمختګ کي پريکنده رول لوبوي او دا هغه څه چی بايد پدغه پروسه کي هم ورته په ټينګه پام واړول سي.
دا خو هغه څو کرښي وې چي د تړاو له مخي يې په عمومي ډول يادوونه اړينه ښکاريده.
راسئ پدی اړه ددغي ننني غونډی پر رول باندي و ږغيږو : زه باور لرم چي و دغي غونډي ته را غلي درانه ګډونوال نه يوازی په علمي ـــ سياسي لحاظ د نظر خاوندان دی بلکه ډيری يې د موضوع په هکله د زبردستو پوهانو په توګه د هغي پر خارجي او داخلي اړخ باندی د اړين اغيز درلودونکي کسان هم دي . ښايي يو شمير ددغو کسانو له ډلي نه په خپلو ميشتو هيوادونو کي د بيلابيلو دموکراتيکو ګوندونو او اغيزناکه کړيو سره دوستانه تړاونه او ان غړيتوب ولري . په اکثرو لويديزو هيوادونو کی دغه ډول ګوندونه يا پخپله واکمن دي او يا هم د نومورې هيواد پر خارجي سياست باندي د پام وړ اغيز لري . پدي توګه دغه محترم ګډونوال کولاي سی هغوی ته د افغاني ټولني د موجودو واقعيتونو په باره کي پوره مالومات او ښي مشورې ورکړي څو په خپل خارجي سياست کي يې په پام کي ونيسي . دا خو ټول يوازي هغه څه دي د غميزي پر خارجي اړخ باندي ستاسي درنو پوهانو اغيز په ګوته کوي ، مګر پر خارجي اړخ باندي ګاونډي هيوادونه لکه ايران او له ټولو څخه زيات پاکستان خپل اغيز لري . ستاسي درنو پوهانو د رول او اغيز څخه د موضوع په داخلي اړخ باندي هم سترګي پټيدلاي نه سي . داځکه ډيری له تاسو څخه د هغو سيمو د اولسونو او د هغوی له قومي مشرانو سره تړاو لری چي همدا اوس اوس د جنګ په لمبو کي کړيږي .
بايد ووايم چی د هيواد ټول ميشت قومونه د رواني غميزي څخه په يوه يا بل ډول زيانمن سوي دي ، خو د ځمکي هغه ځاي ډير سوزی چي اور پرې بل وي . ځکه نو که مونږ ډيري اوښکي د پښتنو پر حال تويي کړو، دا به په هيڅ ډول ددې مانا نه ورنکړي چي ګويا نور ورونه قومونه مو خداي مکړه هير دی او يا هغوي پدغه غم کي شريک نه ګڼو.
په هيواد کي د مخالفو وسله والو په وړاندي د داعشی جنګيالیو د خوزښتونو ګنګوسي ، په پاکستان کي د پښتنو وروستی پرمختګ او د افغانستان په هکله يې د ستراتيژيک عمق په اړه د بدلون نښي نښاني ، د افغانستان په جيوپوليتيک موقعيت کي د جيو ايکونوميک او ترانزيتي پديدو را برجسته کيدل ، د سېمي او لوديز تر منځ په اقتصادي او نظامي معادله کي د انډول نسبي بدلون ، د سولي په پروسه کي د چين شکيلتيا ، او همدارنګه په نړی کي د پښتو ننني پرمختګونه دا ټول هغه څه دي چي زما په آند د سولي ريښو ته اوبه ورکولای سي . له همدې کبله اوسني حالات ماته له بل هر وخت نه زيات د سولي او امن په ګټه بريښي.
زه د غميزي په دومره اوږدو ځيډو کي د پښتني قومونو يوه بله مورنی ستونزه تر ټولو مهمه او د ځانګړي پام وړ بولم . داهغه ستونزه ده لکه وتلی پښتون شاعر ، درويش دُرانی چي وايي :

د لمر وجود زغملای نه سی ، د لمر نور نه مني
جانان مي خُوی د پښتنو لري ، تربور نه مني

ددغه بنسټيز ټکي په پام کي نيولو سره زه پدې اند يم چي د موضوع په کور دننه اړخ کي بايد تر هر څه دمخه پر دی خبری باندي غور وسي چي څنګه کولای سو دجانان د فکره څخه دغه ( پښتني ناولی خُوی ) ليري کړو ، څنګه کولای سو پښتانه و دی ته را وهڅوو چي د جهالت له تورتمه و را وتلو ته غاړه کښيږدي او د لمر په رڼا کي تربره ته په خلاصو سترګو و ګوري . البته دا يو ساده او اسانه کار ندی خو حلول يې د پرتو ستونزو څخه د خلاصون تر ټولو غوره او اغيزمنه لاره بولم . طبعي خبره ده چي دا کار په امر او نهي باندی نه کيږی خو د هر لوړ غره پر سر باندي هم لاره سته . د پښتانه دغه ناوړه خوی د ډيرو ستونزو مور او داسی يوه بلاربه بلا ده چي ساعت په ساعت بچيان زيږوي او د غم پر اور غوړي تويوي . زه دغه ستونزه د بحث او غور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د پاره د منځ ټکی ګڼم او وړاندیز کوم خپلي خبري پر یوه داسي محور باندي راټولي کړو چي د څه ډول جوړښت د لاري کولای سو دغي ستونزي ته د حل کِلي و مومو څو پر بنسټ يې سولي او امن ته لاره پرانيزو .

که چیری په غونډه کی د ازاد بحث له پاره وخت پاته سو ، انشاالله زه به پدي اړه نوري څرګندوني هم ولرم . د اوس د پاره په همدومره بسنه کوم . و من الله توفيق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ